که څوک خوښ ګڼي چې الله تعالى يې د قيامت د ورځې له سختيو څخه وساتي؛ نو د نادار او بې وزله لاس نيوى دې وکړي، او يا دې ورته پرېږدي

له ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دى چې هغه د خپل پوروړي پسې ورغى، هغه ترې پټ شو، بيا يې وموند او ويې ويل: زه په سخت کې يم (لاس مى تنګ دى او څه نه لرم)، هغه وويل: ستا دې په الله قسم وي؟ ويې ويل: په الله قسم؟ هغه وفرمايل: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «که څوک خوښ ګڼي چې الله تعالى يې د قيامت د ورځې له سختيو څخه وساتي؛ نو د نادار او بې وزله لاس نيوى دې وکړي، او يا دې ورته پرېږدي».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

ابو قتاده الانصاري رضي الله عنه د يو قرضدار په لټه کې و چې ترې پټېده، هغه يې وموند، نو قرضدار ورته وويل: زه نادار يم او ستا د پور د ادا کولو لپاره پيسې نه لرم. نو ابو قتاده رضي الله عنه ورته قسم ورکړ چې پيسې نه لري؟ نو په الله يې قسم وکړ چې په خپله وينا کې ريښتونى دى. ابو قتاده رضي الله عنه وايي چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واوريدلي چې ويل يې: که څوک خوښ ګڼي او خوشحالېږي چې الله جل جلاله يې د قيامت د ورځې له سختيو او وحشتونو څخه وساتي نو د تنګ لاسي پوروړي سره دې سختي نه کوي، يعنې نېټه دې ورته اوږده کړي او پور دې ترې ورورسته وغواړي، او يا دې ورته د پور يوه برخه او يا ټول وبخښي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4195

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee